# نقاب لرونکي انجلۍ

## نا و ل




لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیل

د دنګ چنار د سر څخه مرغیو وزری وپړقولې او هوا ته پورته شوی چنار ته پنځه متره لرې د یو ځوان په مخ د تندی راغلی وینی ښکاریدی لږ وروسته په ځمکه پړمخ پریوت یو څنور خپل خواته ولاړ کس ته وویل وګوره ژوندی دی هغه یی په ملا پښه کیښوده پری زور یی کړی بیرته یی تری پښه لری کړه هغه لا څه نه و ویلی چی د پروت ځوان د ملا څخه وینو داره وکړه خړی دریشی یی ورو په ورو سور رنګ خپلوو څنور د ټوپک شپیلی د بل ځوان چی لاسونه یی په رسۍ تړل شوی و سر ته ونیوله ځوان ټوپک او بیا څنور ته په داسی غوښتونکی نظر وکتل لکه د خپل ژوند خیرات تری غواړی څنور سړی وویل اوس ته ما ته داسی دلیل پیش کړه چی زه د هغی دلیل په وجه تا په وینو کی ونه لمبوم ځوان وویل زه نهه خویندی او یوه تور سری مور لرم ورونه می نشته پلار می هم وفات شوی یواځی زه یم چی د کور خرچه پوره کوم څنور وخندلی بیا یی وویل اصل کی ته د وژلو لایق یی په خویندو دی حرامی پیسی خورئ د لاس تړلو پنځو کسانو چی یو یی د عزرایل سره معامله کړی وه او خپل روح یی ورکړی و او پاتی څلورو کسانو مرګ ته شیبی شمارلی د بر سره یو کس چی د نورو په رتبه کی لوړ معلومیده څنور ته وویل ته د کومه حلالی پیسی خوری ټول ژوند مو د حرامو پیسو په خوړلو او د نورو په وژلو تیر شو تاسو د پنجاب غلامان یی بیا یی خپلو ملګرو ته وویل د دوی ناولو څیرو څخه چی هدف یی د بیګناه انسانانو وژل دی خپل ژوند مه غواړی پریږده چی مونږ ووژنی تر څو دوی ته ثابته شی چی دا هیواد نه ماتیدونکی ځواک لری هیڅکله به یی دی سپکو خلکو ته پرینږدی که مونږ پنځه تنه وژل کیږو زمونږ په ځای په زرونه کسان نور د دوی سره د جګړی میدان ته راځی محسنه ته مه خپه کیږه ستا د کورنۍ سره الله تعالی ملګری دی الله تعالی خپل هیڅ بنده بی سرپناه نه پریږدی د ځوان په دی خبرو لاس تړلی کسانو مورالونه لوړ شو ټولو په یو اواز وویل جګړن صیب مونږ د مرګه نه ډاریږو دا هیواد او دا ملت دی تل سرلوړی وی څنور چی د دوی په دی خبرو د قهر سور شین کیدو جګړن ته وویل ستا لکه چی مرګ ته ډیره بیړه ده غم مکوه ستا لمبر هم رارسیږی بیا د محسن په لوری ورغلی ورته وویل تا خو د

## لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلی کورنی په ځای خپل هیواد ته لومړیتوب ورکړو اوس به خپل مرګ په خپلو سترګو وینو محسن وویل ډارنه دز دی وکړه ستا پشان ډارنو خلکو ته مونږ خپله کورنی د ځان د بچ کیدو لپاره نه واسطه کوو د ځنور په لاس کی د نیول شوی ټوپک د شپیلی لوګی پورته شو بیا ورپسی دوو کسانو هم د نړی سره خدای پامانی وکړه او د نړی د ستړی ژونده د اخرت ابدی ژوند په لور لاړل ځنور د جګړن سر ته ټوپک ونیو وویل ستا ډیره بیړه وه کنه اوس به دی زه بیړه ختمه کړم او د دی نړی نه به دی رخصت کړم جګړن وویل مونږ یواځی د الله تعالی څخه ویریږو او هغه ته سوال او زاری کوو ستا پشان خاینو خلکو ته چی موخه یی د هیواد ورانول دی مونږ سوال نکوو د جګړن په خپل مخ د کونداغ ګوزار احساس کړ د خولی یی لپه وینی وبهیدی دځنور په مخ یی لاړی تو کړی ځنور په خپل مخ لاس راکش کړو په لاس یی وینی نری لیکه وکړه ځنور د جګړن سینی ته لغته ورسیخه کړه جګړن شاته ولوید ځنور د ټوپک شپیلی د جګړن تندی ته برابره کړه وویل د ټوپک د شپیلی مخاطب ته یی زه نه یم د خبرو حق زما سره دی ته باید غلی شی جګړن وویل الله تعالی هر چا ته دا حق ورکړی او هیڅوک تری دا حق نشی اخیستی د ټوپک لوګی پورته شو جګړن په سر کی درد احساس کړو ورپسی د ډزو باران جوړ شو ځنور شاته وکتل وویل کمانډویان راغلل دوه کسانو سپینی جامی سری شوی ځنور هم په خپل لاس وینه ولیده کمانډویانو پرله پسی ډزی کولی ځنور او ملګری یی په غر کی د د ځیړیو په ونو کی پناه شول کمانډویانو ډزی بندی کړی څو کسانو ځانونه تر جګړن پوری راورسول یو یی د جګړن په سر مالوچ کینښودل وویل جګړن صیب ښه یی جګړن وویل اوس خو ښه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عملیات خونی دروازه خلاصه شوه په تذکره کی یو ناروغ تر بلی خونی
ویوړل شو دوه عسکرو د ناررووغ د خونی دروازی سره امنیت نیولی و نیم
ساعت تیر شو دوه عسکر د روغتون په دروازه راننوتل ورپسی یو بل کس
چی عمر به یی د پنځوسو کالو پوری و راننوت څلور عسکر نور هم راننوتل
د دروازی تر څنګ ولاړ یو عسکر بل ته وویل جنرال صیب راغلی د جنرال
د رارسیدو سره سم دواړو عسکرو سلام وکړ جنرال وویل د جګړن حالات
څنګه دی یو عسکر وویل ډاکټر صیب وویل چی په وخت مو رارسولی په څو
ساعتونو کی به په هوش راشی جنرال وویل څوک څوک مړه دی عسکر وویل
زید عبد الله جلال او محسن وژل شوی جنرال د محسن د نوم په اوریدو اواز
ژړغونی شو وویل الله تعالی دی د محسن دوی په کورنی رحم وکړی دا یو د
کور هستی یی درلوده ظالمانو تری هغه هم واخیسته بیا د جګړن خونی ته
ننوت پنځلس دقیقی وروسته د روغتون څخه ووت د وتلو په وخت کی یی
عسکرو ته وویل ډیر پام کوی نور موټر ته وخوت او لاړ د مازیګر وخت و
جګړن په هوش راغلی و د روغتون په دروازه کی دری کسان چی ورخطا
معلومیدل راننوتل یو کس د ډاکټر څخه وپوښتل جګړن په کومه خونه کی دی
ډاکټر وویل کوم هغه سهار چی لګیدلی و راغلی کس وویل هو ډاکټر دوو
ولاړو عسکرو ته اشاره وکړه وویل هغی خونه کی دی څو ساعته وروسته
جګړن سترګې غړولی خواته ناست کس ته یی وکتل په سختی یی وویل ګلابه
تاسو چا خبر کړی ګلاب په خندا کی وویل د قرارګاه څخه یی خبر راکړو
مونږ هم ځان راورسوو جګړن وویل کور کې خو به څوک نه وی خبر ګلاب
وویل نا ندی خبر ورته ومی ویل چی ښار ته ځم کاکا دوی کره څه وخت می
هلته دی جګړن وویل کاکا دوی خبر دی ګلاب وویل کاکا او د کاکا ځوی
طاهر خبر دی او د کاکا میرمن خبره ده نور څوک ندی خبر جګړن نوری
پوښتنی بس کړی دروازه خلاصه شوه څوک راننوت جګړن دروازی ته یی
وکتل د کاکا په لاس کی یی خلطه د جوسانو ډکه وه کاکا یی د جګړن خواته
راغلی په خوله یی موسکا خپره وه جګړن ته یی وویل وراره ګله اوس څنګه
یی جګړن وویل ښه یم کاکا کاکا یی وویل ما درته دا جوس راوړل درله ښه
دی طاهر ته می ویلی د ښار څخه ډوډی راوړی کاکا غټ مخ درلود پراخه
تندی به یی تل اوار و په خوله به یی موسکا خپره وه د جګړن دوی سره یی
ډیره مینه درلوده څو ورځی وروسته جګړن د روغتون څخه رخصت شو او د

## لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

استراحت لپاره کور ته لاړ د جګړن پوښتنی ته د لرې لرې ځایونو میلمانه
راتلل حجری ته چایونه وړل کیده

ډله د عملیاتو لپاره چمتو ولاړه وه جنرال د ډلی شاوخوا ګرځیده ناڅاپه ودرید
وویل جګړنه ته خپلی دندی ته راستون شوی جګړن وویل هو جنرال صیب
جنرال وویل لږ نور استراحت به دی کړی و بیا به راتلی جګړن وویل یوی
میاشت رخصت راباندی هم ډیر و افغانیت می اجازه رانکړه چی زه دی په
ارامه خوبونه کوم او ملګری می دی د دښمن سره په سختی جنګیږی جنرال
وویل افرین ستا په څیر اتلان چی وی دا نظام هیڅکله ماتی نه خوری بیا یی
وویل څه وخت راغلی جګړن وویل دوه ساعته مخکی جنرال وویل بیا خو ه
درڅخه ګیلمن یم بیخی دی زما پوښتنه ونکړه جګړن موسک شو جنرال هم د
خندا لپاره خپله خوله خلاصه کړه مخامخ سپین غاښونه یی ښکاره شول جنرال
پنځوس کلن و شل کاله یی په پوځ کی دنده ترسره کړی وه د طالبانو د
حکومت په راتګ سره روسی ته لاړ هلته یی څه زده کړی نوری هم وکړی
کله چی د طالبانو رژیم ړنګ شو افغانستان ته راغلی او په پوځ کی دنده
ترلاسه کړه هغه په زړورتیا کی یو نوم درلود تر لرې لرې ځایونو به یی
کیسی کولی موټری ډکی شوی جګړن هم یو موټر ته وختو د خړو خاورو
دوړی پورته شوی موټرو تر شا لیکی پریښودی جنرال وویل الله مو بریالی
کړه تر یو وخت پوری موټرو پسی کتل بیا خپلی خونی په لور روان شو نیم
ساعت وروسته د ډزو غږونه تر لرې اوریدل کیدل یو کس غږ کړی راکیټ
دی جګړن مخامخ وکتل یو کابو پنځه دیرش کلن سړی چی اوږده ږیره یی
درلوده او سپینی جامی یی اغوستی وی راکیټ په اوږه ایښی او خوله یی د
جګړن دوی په لورې سمه کړی وه د راکیټ د خولی لمبه پورته شوه د راکیټ
مرمی د جګړن دوی په لورې لاره لنډوله جګړن پروت وکړ مرمی لږ مخکی
ولګید دوړی شوی جګړن غږ کړی ټول ښه یی هر یو د ځان د ښه والی ډاډ
ورکوو کمال چی دوربین دار ټوپک یی په لاس کی نیولی و خپل د ټوپک

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپیلی د راکیټ والا په لور سمه کړه د بسم الله د غږ سره سم راکیټ په ځمکه
ولوید د راکیټ خاوند هم پری د پاسه پریوت جګړن وویل افرین کماله کمال
دی وکړ کمال وویل اخر د چا د قومندی لاندی یم جګړن وخندل وویل مونږ
ټول د الله تعالی د قومندی لاندی یو هغه چی څه وایی مونږ یی باید ومنو کمال
وویل دا خو ده تر ډیره د ډزو غږونه و مازیګر وخت و جګړه ودریده جګړن
د خپل ځایه پاڅید مخامخ یی وسله نیولی وه یو یو کس پاڅیده جلال وویل خدایه
شکر نور می پښی ماتی شوی موټری په قرارګاه راننوتی جنرال یی مخی ته
ودرید وویل څنګه شو جګړن وویل دښمن مو په شا کړ بیا به هیڅکله د هغی
ځای نیولو جرأت ونکړی جنرال وویل تلفات جګړن وویل دری ملګری مو
شهیدان او څلور ملګری مو ټپیان شو د دښمن اته کسان مو ووژل پنځه مو
ونیول او دری ټپیان یی د ځان سره ویوړل جنرال وویل زمونږ ټپیان څه شول
جګړن وویل روغتون ته مو انتقال کړل جنرال وویل افرین زمریانو ځي لاړ
شي ارام وکړی ستړی شوی به یاست

د شاتو مچی د یو ګل سره مخه ښه وکړه او د بل ګل میلمنه شوه د توت د ونی
یوی مرغی خپلو بچو ته د رزق راوړلو لپاره په نامعلوم لوری سفر وکړ د لمر
رڼا د کړکۍ له لاری خونی رڼا کړی وی د چوکو په منځ کی پروت میز باندی
د سهار چای کیښودل شوی و په چوکو ناست پوځیانو د چای څښلو تر څنګ
خپلو کې خبری کولی جګړن د بر سر چوکۍ نیولی وه او د کمال سره په خبرو
مشغول و جنرال په بیړه راننوت رنګ یی الوتی و ورخطا معلومیده ټول
پوځیان په خپلو ځایونو ودریدل جنرال وویل بیړه وکړی ځانونه مو تیار کړی
جګړن وویل خیرت خو دی جنرال صیب جنرال وویل د دی ځایه کابو اوه سوه
متره لرې یوی پوستی باندی مخالفینو برید کړی له مونږ غوښتنه شوی تر څو
زر تر زره ورسره مرسته وکړو جګړن د خا په ښه سر وخوځو پنځه دقیقی
وروسته پوځیان په وسلو سمبال د تیارسی په حالات کی ولاړ و جګړن د نورو
لږ رامخکی شو وویل ډله تیاره ده جنرال صیب جنرال وویل الله تعالی مو
بریالي راستانه کړه په مخه مو ښه پوځیان موټرو ته وختل موټرو تور لوګي
تر شا پرینودل او په غزیدلی سرک په چټکی سره روان شو لږ وخت وروسته
یو کس غږ کړی مرسته راورسیده د پوستی په دیوال مرمی لګیده لږه دوړه

## لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته شوه یو کس منډه واخیسته سپینی جامی او اوږده ویښتان یی درلوده
جګړن د امبی څخه د امبی د پاسه ناست کس ته غږ کړ جلال درڅخه بچ نشی
جلال فیکه د منډه وهونکی کس ته سمه کړه د فیکه د خولی سری مرمی ووتی
یواځی سری مرمی نه وی د مرمو سره عزرایل هم د لاری ملګرتیا کوله د
منډه وهونکی کس سپینی جامی سری شوی پړمخی په ځمکه ولوید د موټرو
پوځیان په بیړه ښکته شو جګړه نوره هم زوروره شوه د پوستی دننه پوځیان
چی د دوی په سر د عزرایل سره تړون شوی و اوس وشلیده د پوستی دننه
پوځیانو د شکر سجدی ترسره کولی یو ځوان بیا د بل ټپی کس سر ته ناست و
او هغه ته یی ډاډ ورکوو وویل قاسمه وزغمه زمونږ ملګری راورسیدل مونږ
به تا ډیر زر روغتون ته انتقال کړو قاسم د سر څخه پټی تاوو شوی وه د پټی
څخه لږه وینه راوتی وه او سپین بنداج یی سور کړی و قاسم په سخته ساه
اخیسته د پوستی قومندان څو ډزی وکړی بیا یی وویل زهیره څنګه دی زهیر
وویل قومندان صیب حالات یی خراب دی باید زر تر زره یی روغتون ته
یوسو قومندان وویل جګړه اوس ودریږی بیا یی بیرته خپلی جګړی ته توجو
واړوله زهیر وویل قاسمه تا خو زمونږ سره تل په سختو کی مرسته کړی خو
مونږ د تا سره مرسته نشو کولای قاسم په سختی د زهیر په لوری وکتل ورو
یی وویل ژوند تل همداسی بی وفا یی زما د مرګ څخه سمدلاسه زما مور
خبره نه کړی داسی نه چی هغه هم ټوخی واخیست په ورو ورو یی د شهادت
کلمه تکرار کړه سر یی ښی لوری ته کوږ کړ زهیر وویل قاسمه قاسمه خو
قاسم د دنیا سره خدای پامانی کړی وه او د خپلو ارمانونو سره یو ځای د دنیا
څخه وکوچید قومندان زهیر ته وکتل د زهیر د سترګو اوښکی په غومبرو
راروانی وی تر لږ وخته جګړه وه ډزی ورو ورو ختمی شوی
جګړن د پوستی په لور ورغلی د پوستی قومندان د باندی راووت جګړن وویل
زه جګړن د پوستی قومندان وویل جګړن صیب تا به څوک څنګه نه پیژنی ستا
د اتلوالی کیسی خو هر څوک کوی مونږ هم اوس ولیدی جګړن وویل مننه دا
ستاسو نیک نظر دی جګړن خپلی خبری ته ادامه ورکړه وویل تلفات مو
څومره دی ډیره مرګ ژوبله خو به نه لری د پوستی قومندان وویل جګړن
صیب یو ملګری مو شهید شو او بل ټپی دی جګړن غږ کړی ډاکټره یو ټپی
دی یو ځوان چی بکس یی په لاس کې نیولې و پوستی ته ننوت جګړن او د
پوستی قومندان هم دننه ننوتل جګړن په زهیر سترګی ولګیدی د زهیر اوښکو
د زهیر په مخ لاره جوړه کړی وه او ګریوان ته روانی وی جګړن وویل هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه چې الله تعالی بنده ته په برخلیک کی لیکلی وی هغه ورسیږی الله دی شهید ته جنت فردوس نصیب کړی کمال جلال حمید او څو نور کسان هم پوستی ته دننه ننوتل زهیر وویل په دی خپه نه یم چی په مونږ برید وشو کاش د قاسم پر ځای الله تعالی زه ځان ته غوښتی وی خو د قسمت کار دی الله تعالی ښه پوهیږی بیا یی خبری وغزولی وویل قاسم په کور کی ویلی و چی یوه ډاکټره یی لیدلې ده غواړی د هغی سره واده وکړی خو پلار یی ورسره نه منله ویل یی چی خلک به څه وایی چی ځوی یی په خپله خوښه ښځه کوی قاسم ورته ویلی و چی دا خو یی څه خلکو ته نه کوی چی د خلکو خبرو پسی به ګرځی خو پلار یی نه منله قاسم هم تری خپه راووت څو میاشتی کور ته نه تلو پلار یی پسی ډیر جوابونه راولیږل خو د به ویل که ډاکټره راته کوی سمه ده او که نه نه درځم پلار یی هم مجبور شو د ډیرو جرګو وروسته د ډاکټری کورنۍ راضی شوه د په خپل معاش د واده ټول مصارف پوره کړل تل یی له ما سره مرسته کړی وه ارمان می و چی احسان یی پوره کړم تیره ورځ مو معاش واخیست هغه پیسی کور ته ولیګلی له ما یی قرض وغوښت ویل یی چی مرسته راسره وکړه ما ورته ټولی پیسی ونیولی ویل یی چی دوه اونی وروسته می واده دی کله چی تلم د ځان سره به یی یوسم سبا ته کور ته تلو اجازه یی اخیستی وه همغه چی د کوره مرور شوی و بیا کور ته نه و تللی پولس میاشتی یی وشوی ویل یی چی واده ته می ځم خو دی بی رحمه جګړی د هغی ارمانونه ووژل اوس د دی جسد ښنګه زه هغوی ته یوسم زه به ښنګه د هغی پلار ته ووایم چی هغه ځوی چی تا باید په ګل فوش کړی موټر کی لیدلی وی مونږ درته د هغی بی روحه جسد په امبولانس کی راوړ زه به د هغی مور چغی ښنګه واورم چی پولس میاشتی یی د خپل ځوی د راتګ لپاره دروازی ته ګتل زه به د هغی ناوی ښنګه وینم چی د یی راته تل صفتونه کول زه به د دی هغه خویندو ته څه جواب ورکوم چی د څو اونیو راهیسی یی د خپل ورور واده ته تیاری نیولی خوشحاله وی خاندلی او اوس د غم ټپی وایی زه به د دی هغه کوچنی ورور ته ښنګه وګورم چی تر اوسه یی د واده لپاره کارونه ترسره کول خو اوس د خپل ورور فاتحی ته راغلی کسانو ته چای وروړی زه به د دی وریرونو ته ښنګه مینه ورکړم چی د کاکا واده ته یی نوی کالی اخیستی و خو اوس به د خیاط سره پاتی شی زه به د دی هغه نیکه اوس په ښرنګه حالات کی وینم چی د خپل لمسی د واده لپاره یی دوه پسونه رابیل کړی و او ویل یی چی دا دوه دانی دی یو یی زما لخوا څخه او دا بل می د ښځی لخوا خو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

به دا قاسم پسی په خیرات کی حلالیږی پلار می راته ویل چی قاسم ته د واده لپاره ته جامی وکړه اوس چی زه لاړم نو پلار ته به څه وایم چی ما قاسم ته د واده تحفه کی کفن واخیست زه به می کوچنی خور ته څه ووایم چی راته ویلی لالا د قاسم واده ته به ته ما ته جامی اخلی اوس به ورته زه وایم چی خوری مړی ته څوک جامی نه کوی د زهیر ګریوان ټول لوند شوی و ولاړ ټولو کسانو هم پر دی داستان ژړل جګړن هم خپلی اوښکی پټی نشوی کړی وویل برید څنګه وشو د پوستی قومندان وویل د قاسم د پیری لمبر و زهیر ورغلی ورته وویل چی ته ننوځه زه پیره کوم قاسم ورته وویل چی زه ته ارام وکړه چی ته دلته پیری وکړی زما واده کی به څوک کار کوی زهیر که څه هم ډیر ټینګار وکړ خو قاسم نه منله اخر زهیر هم راننوت د سهار لمونځونه مو کړی و د قران کریم تلاوت کوو او هم یی پیره کوله د دراسکوپ ډز وشو مونږ چی وروتو دا په سر لګیدلی و بس بیا کلابند شو ویل یی تسلیم شی خو مونږ ورته وویل چی یا وطن یا کفن بیا نو دوی ناری شروع کړی چی یا تسلیمیدل او یا کفن جلال وویل صحیح خبره یی کوله ټولو جلال ته وکتل جلال خپله خبره وغزوله وویل پنځه مو ونیول او لس مو ووژل ټپیان به هم لری جګړن وویل زهیره قاسم ستا څه دی زهیر وویل د کاکا ځوی می دی هغه له ما وروسته راغلی و خو مخکی لاړ قسمت هم عجیبه فیصلی کوی کمال وویل صبر وکړه صبر ښه شی دی جلال کمال ته وکتل کمال موسک و جلال ورته وویل ټول خپه دی او ته داسی خوشحاله یی کمال وویل کش د دی پر ځای زه وی داسی مرګ څومره خوند لری جګړن وویل جلاله دا کله خپه و ربښتیا هم کمال تل خندل د هر چا سره چی به مخ شو تندی به یی ورین نیولی و کمال د هر چا ملګری و جنرال به تل ویل د مخ ښکلا به دی د یو کس دوست کی خو ستا د دوست ډیر دښمنان به وی خو د اخلاقو ښکلا به دی د ټولو دوست کړی او ستا ټول دوستان به د یو بل دوستان وی کمال پنځه خویندی او څلور ورونه درلودل دوه ورونه یی په طالبانو کی ووژل شو مشر ورور یی هم طالبانو کی و هغه ځانګړی سټایل درلوده ویښتان به یی تل په اوږو پراته و اوږدی توری ږیری لپاره به یی په مخامخ جیب کی ږمنځ ایښی وه په سپینو جامو به یی تور واسکټ اغوستی و بی د شل ډزی خو به هیڅ چیرته نه تلو د کمال پلار د امریکایانو لخوا بی ګناه شهید شو امریکایانو د کمال په مشر ورور چاپه ووهله هغه تری وتښتید امریکایانو خپل زړه د کمال په پلار تش کړو د کمال یوه مور چی د زړه او شکر ناروغی درلوده د کمال لپاره د دعا یو څلی و د کمال دوه

## لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خویندی واده وی او دری نورو بیا د کمال لاس ته ناستی وی د کمال یو کوچنی ورور بیا د کور ساتنی مسؤلیت درلود د کمال مشر ورور به کله کله د مور پوښتنه کوله خو زیاتره وخت به نه و د قسمت هم څه عجیبه پریکړی وی څو ځل کمال او مشر ورور یی په جګړه کی د یو بل په خلاف ودریدل یو ځل خو کمال مجبور شو چی خپل ورور وولی کمال په نښه ویشتلو کی نوم درلود د هغی به په توپانچه هم نښه نه خطا کیده هغه به ویل که زما څخه نښه خطا شی نو بیا می د ژونده بیخی زړه توریږی جنرال به ویل زه په کمال نه یم خپه زه د کمال په خواراکی مور خپه یم چی هم کونډه هم بوره شوه او اوس یی دوه ځامنو یو بل ته وسله نیولی د جلال کیسی د کمال د کیسی څخه توپیر درلود ځکه کمال د مجبوریته او جلال د خوند لپاره دنده ترسره کوله د جلال مشر ورور انجینر و پلار یی هم په یو دفتر کی دنده درلوده ګوزاره یی کیده خو د جلال د ښوونځی د کتاب قلم او کتابچی پر ځای د توپانچی فیکه او ټوپک سره مینه وه د به په فیکه نښه ویشتله دوه ځل د کور څخه وتښتید او پوځ ته لاړ خو پلار یی بیرته تری راوست دریم ځل یی تښتی ته پرینښود اجازه یی ورکړه چی دنده ترسره کړی جګړن بیا د وطن سره مینی دی دندی ته مجبور کړی و د خدای پامانی وروسته جګړن د خپلی ډلی سره یو ځای خپل مرکز ته راستون شو

لمر هم خدای پامانی کوله خپلی اووه رنګه وړانګی چی ځمکی ته یی سپین رنګ ورکړی و او رڼا یی خپره کړی وه ټولولی جګړن چوکی کې ناست او کتاب په لوستلو بوخت و موبایل یی وشړنګید د موبایل سکرین ته یی وکتل اشنا شمیره ورته ښکاره شوه د اوکی بټن ته یی فشار ورکړ وویل سلام علیکم د هغی لوری غږ راغلی وعلیکم السلام جګړن یی جګړن وویل هو زه یم د هغی لوری کس وویل ځانته یی جګړن وویل هو مقابل لوری کس یی وویل سمه ده چی ځانته یی ستاسو مرکز ته سل متری کې دوه کسان دی اوږدی ږیری لری سپینی جامی یی اغوستی موټر سایکل هم لری دواړه لکه چی توپانچه هم لری په دوربین کی ستاسو مرکز ته ګوری یو کس بل ځان سره کړه د لویدیځ دروازی څخه ووزه که غواړی ونیسی یی او که نه غواړی مونږ به یی دوه ډزه کافی کړو جګړن وویل سمه ده زه یی نیسم مقابل لوری وویل وسلی ستاسو خو دوربین او نور شیان زمونږ دی جګړن وویل تاسو ما ته ځان معرفی نه کړو مقابل لوری وویل ته زمونږ په پیژندګلوی څه کوی مونږ خو درته وویل مونږ مخ پټی جاسوسان یو یوائی د دی خاوری دښمنانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګیږو جګړن وویل نو ولې ماته خبر راکوی مقابل لوری وویل ته یو تکړه
او په وطن مینن سرتیری یی ځکه تا ته خبر درکوو که نه پوځیان خو ډیر دی
جګړن وویل ستاسو له امله زما ځلور ملګری ووژل شو که تا ما ته هغه خبر
نه وی راکړی مونږ به نه نیول کیدو مقابل لوری وویل ما یواځی تا ته خبر
درکړی ایا زما خبر دروغ و ما خو تا ته وویل چی کسان ډیر دی او بیا چی
تاسو ونیولی کماندویان چا راوغوښتل ایا هغه خپله خبر شو جګړن وویل سمه
ده زه د هغه کسانو چاره کوم مقابل لوری وویل ته به د هغه کسانو چاره کوی
او که نا خو خو ستاسو په نیولو کی ستاسو د مرکز څخه د چا لاس و مونږ
داسی اسناد پیدا کړی چی ستاسو د وتلو سره سم یی هغوی ته خبر ورکړی
جګړن وویل څوک دی مقابل لوری وویل پیژنو یی نه خو ستاسو د مرکز څخه
دی چی پیدا مو کړ مونږ یی چاره کوو جګړن وویل سمه ده مقابل لوری وویل
د خدای پامان موبایل بند شو جګړن غږ کړی کماله کماله کمال په بیړه راغلی
جګړن پاڅید وویل چا راته زنګ ووهه ویل یی چی دوه کسان تاسو څاري
کمال وویل خا څه وکړو جګړن وویل تاور ته وخیژه ګوره چی هغوی دی ونه
وینی پام وکړه چی دا خبره رښتیا ده کمال وویل نږدی راتلی نشی او د لرې
می لیدی نشی جګړن وویل دوربین ورسره دی کمال وویل بی غمه شی
قومندان صیب هیڅ ستونزه به نه جوړیږی کمال تاور ته وختو پلټنه یی شروع
کړه جګړن وویل څوک ښکاری کمال وویل هو سل متره لرې دوه کسان کمال
ټولي هغه نښی وویله کومی چی مخ پټی جاسوسانو جګړن ته ویلی وی جګړن
وویل شاوخوا یی وګوره بل څوک خو نه ښکاری کمال تر لږ وخت وګتل بیا
یی وویل نا جګړن وویل سمه ده راځه کمال وویل کار یی ختم کړم جګړن
وویل نا ژوندی نیسو دواړه د ختیځ د دروازی ووتل لس دقیقی وروسته غږ شو
بی ځایه حرکت ونکړی یو یی په موټر سایکل پښه واړوله بل غوښتل چي
وخیژی خو د موټر سایکل په ټیر کی سره مرمی ننوته بیرته د وتو سره سم د
خاورو خړ ګردونه پورته شو جګړن غږ کړی بی ځایه هڅه مه کوی که
غواړی ژوندی پاتی شی وسلی مو وغورځوی او تسلیم شی موټر سایکل ته
ختلی کس بیرته راکوز شو په خوارو سترګو یی جګړن ته وکتل پوهه شو چی
نښه ویشتونکی لری نو دواړو وسلی په ځمکه کیښودی جګړن غږ کړی د
موټر سایکل څخه رادیخوا شی دواړه دیخوا شو جګړن د یوی ډبری د شا څخه
راپاڅید راغلی د دواړو لاسونو ته یی زولنی واچولی تالاشی یی واخیسته هر
څه یی هلته کیښودل یواځی وسلی او دوربین یی راواخیسته کمال هم راپاڅید

## لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه کسان یی مخکی کړه او مرکز ته یی بوتله د دواړو د اظهاراتو معلومه
شوه چی ډیر زر به په دی پوسته برید وشی ټولو کسانو ځانونه تیار کړل پیره
داری هم کلکه شوه کمال او ضیاءﷲ چی نښه ویشتونکی و وخت ناوخت سیمه
پلټله جنرال او جګړن به هو کله کله بهر سیمه کی ګشت کوو خو د برید درک
ونه لګید د غرمی یوه بجه وه لمر په قهرجن نظر ځمکی ته ګتل په ونو کې
ناستو مرغیو سندری ویلی دوه عسکر د دروازی مخی ته تیارسی ولاړ و
جګړن د حویلی په منځ کی یوی چوکۍ ته کیناست موبایل یی راواخیست تر
څه وخت پوری ګوتی په کی وهلی بیا یی غوږ ته ونیو د هغی لوری سلام
راغلی ده هم د سلام جواب ورکړ مقابل لوری وویل جګړن یی جګړن وویل
هو مقابل لوری وویل هغه کسان مو ونیول جګړن وویل هو مقابل لوری بله
پوښتنه وکړه اظهارات مو تری واخیستل جګړن وویل هو تری واموخیستل
مقابل لوری په بیړه وویل څه یی وویل جګړن وویل ویل یی چی په تاسو برید
کیږی خو تر دی دمه د برید معلومات ونشول تاسو خو به معلومات نلری مقابل
لوری وویل نا مونږ د برید په اړه معلومات نه لرو خو نور غلی شو جګړن
ویل خو څه شی مقابل لوری وویل کله چی تاسو هغه کسان ونیول او خپل
مرکز ته مو بوتلل زمونږ یو ملګری وویل چی یو پوځی ستاسو د مرکز څخه
راووت چا ته یی زنګ ووهو ورخطا معلومیده په بیړه یی خبری وکړی بیرته
دننه ننوت جګړن وویل ته د هغی نښی ما ته ووایه مقابل لوری وویل ما خو
ندی لیدلی هغه بل ملګری چی مو کله راغلی زه به بیا درته زنګ ووهم
جګړن وویل هغه کله راځی مقابل لوری وویل ډیر زر راځی نږدی تللی
جګړن وویل سمه ده بیا معلومات راکړه زه په تمه یم مقابل لوری وویل خدای
پامان جګړن هم دا کلمه تکرار کړه موبایل بند شو
په جګړن ساعت نه تیریده کله یو خوا او کله بل خوا ځا نیم ساعت ووت خو د
جګړن موبایل ته زنګ رانغلی جګړن چوکی ته کیناست په ډیر انتظار او
ګرځیدو ستړی شوی و کیناستو خوند ورکړ څو دقیقی تیری شوی موبایل
وشړنګید جګړن زر موبایل راواخیست اوکی یی کړ وویل معلومات دی وکړل
مقابل لوری وویل هو غنمرنګه سړی و کابو اووه ویشت کلن به و لوی مخ یی
درلود ږیره یی لږه وه تور ویښتان یی درلوده همدا نښی ورته زده وی نور یی
نه پیژنی جګړن وویل په غومبری خو یی چوری نه و مقابل لوری خپل خواته
کس ته همدا خبره وکړه تر لږ وخت چوپتیا وه بیا یی وویل هغه وایی چی
نوری نښی یی ورته ندی معلومی خو که عکس یی ووینی پیژنی جګړن وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټولی نښی د محمد دی مقابل لوری وویل محمد څوک دی جګړن وویل
لومړی بریدمن دی خو فکر نه کوم چی هغه به وی هغه تل طالبانو پسی بد
وایی ځان داسی ښایی چی د طالبانو زیاته کرکه لری مقابل لوری وویل زیات
ساده یی څوک چی په پوځ کی دنده لری باید په هیچا هم باور ونه کړی د
یعقوب خان خسر د انګریزانو جاسوس و ایوب خان چی مونږ یی د میوند فاتح
ګڼو انګریزانو د ایران د زندانه ازاد کړ لاهور کی یی میشت کړ او عبدالرحمن
خان ته یی یو ګواښ کړ ته یی عکس ستاسو د مرکزشمال ته چی دوه سوه
متری کی کوم خوړ دی هلته د غر په یوه څنډه کی د ځیری بوټی ولاړ دی
هملته یی کیده خو چی کله دی عکس راوړو مونږ ته خبر راکړه جګړن وویل
سمه ده موبایل بند شو جګړن د کمال خواته ورغلی ورته وویل د محمد یو
عکس می په کار دی خو باید پوهه نشی چی عکس زما په کار دی کمال
وخندل وویل دوربیندار ټوپک کی خو څه کمره نشته چی زه یی تری عکس
واخلم جګړن وویل نا په څه چل یی د هغی څخه واخله یوه بانه ورته وکړه
کمال وویل څه پری کوی جګړن وویل چا ته ونه وایی خو زه په محمد شکمن
یم هغه کسان چی ما او تا ونیول د محمد سره څه اړیکه لری کمال وویل ته څه
پوهه شوی جګړن وویل پسی ګرځه مه کمال وویل که دا خبره رښتیا وی زه
خو یی ژوندی نه پریږدم ټول عمر یی د حکومت وخوړه خو خدمت یی
مخالفینو ته کوی جګړن وویل کومه غلطی ونکړی د دی خبری خدای زه ته او
هغه کس چی ما ته یی دا خبر راکړی دی خبر یو په خوله لاس کیده خبر
دومره هم باوری ندی دا عکس هغه کس ته ښکار کوم هغه یی پیژنی کمال
وویل سمه ده جګړن وویل کومه غلطی ونکړی کمال د خا په بڼه سر وخوځو
ترلږ وخته جګړن او کمال خبری کولی جلال هم راغلی دری ملګرو یو بل ته
زړونه تش کړل مازیګر وخت و لمر خدای پامانی اخیسته او ورو ورو د
هسکو غرونو شاته پناه کیده کمال د جګړن خواته راغلی وویل عکس می
راوړ جګړن تری عکس واخیست وویل راځه د جنرال څخه یی اجازه وغوښته
وویل چی شاوخوا سیمه یو ځل ګورو جنرال اجازه ورکړه جګړن د کمال لږ
اخوا شو زنګ یی ووهو وویل مونږ عکس دروړو مقابل لوری وویل سمه ده
جګړن او کمال لاړل عکس یی په ښودل شوی سیمی کی کیښود بیرته راغله
کابو یو نیم سل متره لاره یی وهلی وه جګړن شاته کتل یو کس د عکس په لور
راروان و جګړن کمال ته وویل عکس ځای ته څوک راځی کمال د خپلی
وسلی خوله هغی ځای ته برابره کړه وویل مخ یی پټ دی وولم جګړن وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوست دی کمال وویل سمه ده بیرته یی خپلی لاری ته دوام ورکړ څو دقیقی
وروسته دواړه په مرکز کی و یو نیم ساعت ووت خو د مخ پټی جاسوسانو
لخوا جګړن ته خبر رانغی یو پوځی راغی وویل جنرال صیب مو غواړی
جګړن وویل ولی څه شوی پوځی وویل د برید په اړه خبری کوی پوځی بیرته
لاړ کمال وویل یو جنرال صیب هم نه وخت کی کار وی څو دقیقی وروسته
جنرال خبری کولی وویل ملګرو د برید په اړه خو ټولو ته معلومات دی

نقاب لرونکې انجلۍ لومړی برخه

د دوهمې برخی انتظار کوی

لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**